قرآني بيان

# قُرباني

## او د زړۀ حالتونه

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي) لاندې
جوماتونو د پاره د لوستلو اختر

(کال 2026ء/1447ھ)



(For Islamic Brothers)

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې

جوماتونو د پاره د لوئي اختر (کال 2026ء/ 1447ھ)

قرآني بیان

پهٔ نوم

# قُرباني او د زړهٔ حالتونه

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د لوئي اختر د ټولو نه خوښ عمل
- اِخلاص د عمل روح دے
- مونږ هم څوي قُرباني کوو (واقعه)
- د عمل د قبلیدو درې معیارونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم:

مَا مِنْ عَبْدَيْنِ مُتَحَابَّيْنِ فِي اللهِ يَسْتَقْبِلُ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَيُصَافِحُهُ وَيُصَلِّيَانِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّمَ اِلَّا لَمْ يَفْتَرِقَا حَتّٰى تُغْفَرَ ذُنُوْبُهُمَا مَا تَقَدَّمَ مِنْهُمَا وَمَا تَاَخَّرَ

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چي د الله پاک د پاره په خپل مينځ کښې محبت لرونکي چي کله د يو بل سره ميلاؤيږي، لاسونه ميلاؤهي او په نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک ليږي نو د هغوئي د جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې د دواړو مخکښيني وروستني (صغيره) ګناهونه بخښلے کيږي-[1]

---

[1]... مسند ابي يعلٰى، قتادة عن انس، جلد:3، صفحه:34، حديث:2960-

عاصیو جُرم کی دوا ہے درود
ایک ساعت میں عمر بھر کے گناہ
چھوڑیو مت درود کو کافیؔ!

کیا دَوَا عینِ کیمیا ہے درود
کرتا مَعدُوم اور فنا ہے درود
راہِ جنّت کا راہ نُما ہے درود[1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَکَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْکَرِیْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

لَنْ یَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَ لَا دِمَآؤُهَا وَ لٰكِنْ یَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْؕ

(پاره: 17، سورۀ الحج: 37)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د الله بارګاه ته بالکل نۀ د دوئي غوښې رسي او نۀ د دوئي وِینې، البته ستاسو له طرفه پرهيزګاري د هغۀ بارګاه ته رسي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه د عظمت والا ورځ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! نن يَومُ النَّحر (يعني د قُرباني ورځ) ده- عَشرَۀ ذُو الحِج (يعني د ذُو الحِج وړومبی 10 ورځې کومې چې ډيرې د فضيلت والا دي، د هغې)

[1] ...کافی کی نعت، صفحہ:39 ملتقطًا۔

اخرئ ورځ ده۔ د حديثِ پاک مطابق پهٔ ذُو الـحِج کښې د يوې نيکئ ثواب 700 چنده زياتولے شي۔[1] نن ګويا چې د نيکو د سپرلي اخرئ ورځ ده، څومره چې ممکن وي ◈ نن نيکئ کول پکار دي ◈ د الله ښهٔ ډير ذِکر اوکړئ! ◈ درودِ پاک ولولئ! ◈ پينځهٔ واړه نـمونځونه د جَمعې سره ادا کړئ! ◈ نن پهٔ خاص توګه د صدقې او د خيرات ورځ ده، قُرباني کول دي، د قُربانئ غوښه غريبانو له ورکړئ! ◈ د ميلمنو تګ راتګ وي، پهٔ ښه ښه نيتونو سره ميلمستيا اوکړئ! ◈ د صِله رحمئ ورځ ده، خپل خپلوانو له د قُربانئ غوښه ورکړئ! ◈ پهٔ ښه ښه نيتونو سره خپلوانو ته فون اوکړئ او د اختر اُمبارکي ورکړئ! د هغوئ حال اَحوال معلوم کړئ! غرض دا چې کوشش اوکړئ چې نن ډيرې ډيرې نيکئ اوکړئ!

## د لوئي اختر د ټولو نه خوښ عمل

د **حديثِ پاک** پهٔ مشهورو کتابونو: **ترمذي او اِبنِ ماجه** کښې د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائِشه صِدِّيقه طيبه، طاهره رَضِیَ اللہُ عَنۡھا نه روايت دے: د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **يَوۡمُ النَّحۡرِ** (د قُربانئ پهٔ ورځ) د اِنسان پهٔ اعمالو کښې د الله پاک پهٔ نزد د ټولو نه خوښ عمل (د قُربانئ د څاروي) وينه توئيول دي، بے شکه د قُربانئ څاروے به د قيامت پهٔ ورځ د ښکرو، ويښتو او ښنګرو(سُمانو) سره راځي او بے شکه (د قُربانئ د څاروي) وينه پهٔ زمکه باندې د پريوتو نه مخکښې د الله پاک پهٔ نزد د قبوليت مقام ته رَسي، لهذا د زړهٔ پهٔ خوشحالئ سره قُرباني کوئ![2]

---

1 ...شعب الايمان، باب في الصيام، جلد:3، صفحه:356، حديث:3757۔

2 ...ترمذی، ابواب الاضاحی، باب ما جاء فی فضل الاضحية، صفحه:383، حديث:1493۔

نشانی ہے وفا کی اور اِک نعمت ہے قربانی
خُدا کے دوست ابراہیم کی سُنّت ہے قربانی
مسلمانو! کبھی قربانی سے پیچھے نہیں ہٹنا
وقارِ دِین ہے، اسلام کی شوکت ہے قربانی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د قُرباني پۀ كولو كښې د زړونو د حالتونو اهميت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن به اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! پۀ لكونو مسلمانان د قُرباني كولو سعادت حاصلوي، الله پاک دې د ټولو قُرباني پۀ خپل دربار كښې قبولې كړي- دا خبره پۀ ذِهن كښې كښېنوئ چې د قُرباني پۀ قبليدو كښې د ټولو نه زيات چې د كوم څيز اهميت دے، هغه د زړۀ حالتونه دي- الله پاک پۀ قرآنِ مجيد كښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَنْ یَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَ لَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ یَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ (پاره:17، سورۀ حج:37) | [مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: د الله بارګاه ته بالكل نۀ د دوئي غوښې رسي او نۀ د دوئي وينې، البته ستاسو له طرفه پرهيزګاري د هغۀ بارګاه ته رسي. |

پۀ تفسير صراط الـجنان كښې د دې آيت لاندې دي: د جهالت پۀ زمانه كښې به غير مسلمو د خپلو قربانو پۀ وينه باندې د كعبې شريفې ديوالونه ګنده كول او ګڼله به يې چې د داسې كولو سره به زمونږ د الله پاک قُرب نصيب شي- بيا چې كله د اِسلام نُور وځليدو، صحابۀ كرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم حج اوكړو، قُرباني يې پيش كړې نو د هغوئي د تعليم د

پاره دا آیت مبارک نازل شو او ووئیلے شو چې د اللّٰه پاک دربار ته نهٔ خو د قُربانئ غوښه رسي او نهٔ وینه د اللّٰه پاک دربار ته رسي، ستاسو د طرف نه تقویٰ، پرهیزګاري د اللّٰه پاک دربار ته رسي او قُربانئ کوونکے صرف پهٔ ښهٔ نیت، د اِخلاص او تقویٰ پهٔ شرطونو باندې پهٔ عمل کولو سره اللّٰه پاک راضي کولے شي۔ (1)

جانتا ہے بارگاہِ حق کے آئین و اُصول؟ | دِل کے ٹکڑوں کی یہاں پر نذر ہوتی ہے قبول

شیخ اَبُو طالِب مکي رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ چې د دې آیت مبارک کوم وضاحت فرمائیلے دے، د هغې مطابق که د هغې مفهوم لږ پهٔ وضاحت سره بیان کړم نو مطلب به دا وي چې اللّٰه پاک فرمائي: اے زما بندګانو! ◈ تاسو د کور نه راوتلئ نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو د ښاروو منډهئ ته لاړئ نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو ښاروے واخستو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو ښاروے کور ته راوستو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو د ښاروي خیال وساتو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو ښاروے زما پهٔ نوم باندې ذبح کړو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو د ښاروي غوښه پخپله هم پخه کړه او وه مو خوړله او خلقو له مو هم ورکړه نو خلقو تاسو ته کتل، غرض دا چې د ښاروي د اخستو نه واخله، د هغه د قُربانئ او غوښې خوړلو او تقسیمولو پورې ستاسو ټول اعمال د خلقو مخې ته وو خو پهٔ دې ټول وخت کښې هم یو څیز دے کوم چې زما او ستاسو ترمینځه وو او هغه دے ستاسو د زړهٔ حالت، بس ستاسو د عمل د قبلیدو فیصله به د دې زړهٔ پهٔ حالت باندې کولے شي۔ دا به

---

1... تفسیر نسفی، پارہ:17، سورۂ حج، زیرِ آیت:37، جلد:2، صفحه:442۔

کتلے شي چې ستاسو پهٔ زړهٔ کښې تقویٰ وه او که نهٔ؟ د الله پاک پهٔ نزد چې کوم شے قبول دے هغه هم دغه د زړهٔ تقویٰ ده۔ [(1)]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اوس چې مونږ لږ غور اوکړو ◈ کله چې مونږ د ښاروي د اخستو د پاره تلي وو نو پهٔ زړهٔ کښې مو نيت څهٔ وو؟ آيا د ښاروي د اخستو پهٔ وخت مو پهٔ زړهٔ کښې دا نيت وو چې خلق به څهٔ وائي؟ يا دا جذبه وه چې د رَب پهٔ نوم باندې به د ښه نه ښه ښاروے قُرباني کووم؟ ◈ کله چې مو ښاروے محلې ته راوستو، خلقو يـې پهٔ ليدلو واه واه کول نو هغه وخت د زړهٔ حالت څهٔ وو؟ ◈ کله چې دوستانو او ګاؤنډيانو پوښتنه کړې وه چې ښاروے دې پهٔ څو واخستو نو هغه وخت د زړهٔ حالت څهٔ وو؟ ◈ کله چې مو د نورو خلقو ښاروي وليدل او د خپل او د نورو د ښاروي موازنه مو کوله نو هغه وخت مو د زړهٔ حالت څهٔ وو؟ غرض دا چې زمونږ پهٔ قُربانۍ کښې غوښه هغه ده کومه چې به مونږه خورو يا به يـې پهٔ خلقو تقسيموو، وينه به خاوره وځښي، څرمن به يوې مدرسې ته پيش کړے شي، يو څيز به باقي پاتې کيږي ◈ زمونږ د زړهٔ اِخلاص ◈ زمونږ د زړهٔ تقویٰ ◈ زمونږ پهٔ زړهٔ کښې موجوده د تابعدارۍ جذبه ◈ زمونږ پهٔ زړهٔ کښې موجود د رَبّ محبت --!! که دا مقدس حالتونه موجود وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! قُرباني قبوله ده، که دا نهٔ وي ◈ د اِخلاص پهٔ ځائے بل ته ښودل دي ◈ د تقویٰ پهٔ ځائے د غوښې حاصلول مقصد دے ◈ د رَبّ د محبت پهٔ ځائے د خپلو سخاوتونو اِظهار مقصد دے نو بيا معامله ګرانيدے شي- لهذا نن چې مونږ کله قُرباني کوو نو چې

---

[1] ... علم القلوب، باب حکم النیة فی الاعمال، الایة الاولیٰ فمن ذلک قوله جل ثناؤ...الخ، صفحه:166 مفصلاً۔

هُغه وخت د زړونو حالتونه صحيح وساتو!

پهٔ قرآنِ کريم او حديثونو مبارکو کښې مونږ ته داسې حالتونه بيان کړے شوي دي چې د قُربانۍ کولو پهٔ وخت د هُغه حالتونه پهٔ زړونو کښې ساتل ډير اهم دي-

## (1): وړومبے حالت: د زړۀ خوشحالي

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قُربانۍ وينه پهٔ زمکه د پريوتو نه مخکښې د الله پاک پهٔ نزد قبليږي، فَطِيْبُوْابِهَانَفْسًا پس د زړۀ پهٔ خوشحالۍ سره قُرباني کوئ! [1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قُربانۍ کولو پهٔ وخت چې پهٔ خپل زړۀ کښې کوم حالت ساتل دي، پهٔ هغې کښې وړومبے حالت چې د زړۀ پهٔ خوشحالۍ سره وي- د ځينو خلقو حالت داسې وي چې قُرباني خو مې نۀ کوله، خو د نصاب مالِک ووم، قُرباني راباندې واجِب شوې وه، ځکه مې اوکړه---!!

پهٔ اوسني وخت کښې دا هم يو غنيمت دے چې د الله پاک حکم خو مې اومنو، د نصاب مالِک شوے ووم، قُرباني راباندې واجِب شوې وه نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! واجِب خو ادا کووم، دا هم ډيره لويه خبره ده خو پهٔ حديثِ پاک کښې مونږ ته د دې نه وړاندې سبق راکړے شو چې قُرباني کوۍ نو مجبوراً نۀ بلکې پهٔ خوشحالۍ سره يې کوئ- چې قُرباني

---

[1]...ابن ماجه، کتاب الاضاحی، باب ثواب الاضحية، صفحه:510، حديث:3126۔

کوئ نو پۀ زړۀ کښې خوشحالي پکار ده چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! نن زۀ د خپل رَبّ د رضا د پاره قُرباني کووم۔

## د حضرت اِسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام یو مبارک حالت

پۀ روایتونو کښې راغلي دي، کله چې حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام خپل شهزاده حضرت اِسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام مِنیٰ ته بوتللو، هغوئي ته یې خپل خوب بیان کړو، اِرشاد یې وفرمائیلو:

| | |
|---|---|
| یٰبُنَیَّ اِنِّیْۤ اَرٰی فِی الْمَنَامِ اَنِّیْۤ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰی ؕ (پاره:23، سورهٔ صٰفّٰت:102) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زما ځویه! ما پۀ خوب کښې ولیدل چې زۀ تا ذبح کووم۔ اوس تۀ وګوره ستا څۀ رائے ده؟ |

پۀ کتابونو کښې لیکلي دي: کله چې حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام دا فرمائیل نو هُغه وخت د شهزاده مخ روښانه شو، وجود یې پۀ ریږدو شو۔ حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام پوښتنه اوکړه: ځویه! څۀ خبره ده؟ پۀ مخ باندې دا پړقا د څۀ ده؟ پۀ وجود دې دا رپریږے ولې دے؟ اوس د شهزاده جواب لږ واورئ! هغوئي عرض اوکړو: بابا جانه! زۀ چې قربان شم نو د خپل رَبّ پۀ حُضُور کښې به حاضر شم، د دې فاني دُنیا نه به جُدا شم او جَنَّت ته به ورسیږم، اللّٰه پاک زما پۀ باره کښې دا حُکم دې د پاره کړے دے چې هُغه رَبِّ کریم زما نه راضي دے، بے شکه د رَبّ پۀ نزد چې څومره نعمتونه تیار دي، هغه پۀ دې دُنیا او څۀ چې پۀ دُنیا کښې دي، د دې ټولو نه بهتر دي (بس هم د دې خوشحالۍ نه مې مخ پړقیدو)۔ (1)

---

[1]… الرقة والبکاء، الذبیح عَلَیْهِ السَّلَام، صفحه:84 خلاصةً۔ دار القلم دمشق و دار السامیة بیروت۔

| | |
|---|---|
| عیدِ قرباں جذبۂ ایثار کا اِظہار ہے | یہ اطاعت کا خلیلُ اللہ کی معیار ہے |
| ہے یہ تسلیم و رضا کی ایک لافانی مِثال | جان دینے کے لیے فرزند بھی تیار ہے |
| باپ کا حُسنِ عَمَل، بیٹے کا ذُوقِ اِتّباع | اس مِثالی دَاستاں کا مرکزی کِردار ہے |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دے هُغه مبارک حالت کوم چې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ مقدس زړۀ باندې راخور وو، د قُربانۍ پۀ وخت د هغوئي مخ د خوشحالۍ نه پړقيدو، د کومې خبرې خوشحالي---؟ نن زۀ د خپل رَبّ پۀ نوم باندې قُرباني کيږم---!! سُبْحٰنَ اللهُ!

دا حالت مونږ له خپلول دي- قُربانۍ پۀ مجبورۍ باندې مۀ کوئ بلکې د زړۀ د خوشحالۍ نه يې کوئ، چې زړۀ خوشحاله وي، کاش چې د الله پاک محبت پۀ زړۀ کښې جوش کوي، پۀ زړۀ زړۀ کښې دا جذبه پيدا کيږي چې الله پاک حکم اوکړو نو زۀ خاروے د رَبّ پۀ نوم باندې قُرباني کووم، که حکم شوے وے نو د خپل ځان د قربانولو نه به مې هم هيڅکله ډډه نۀ کوله، پۀ زړۀ کښې يو ارمان وي، پۀ زړۀ کښې يو شوق وي چې څومره خوش قِسمته خاروے دے، د خپل رَبّ پۀ نوم باندې قُرباني کيږي، کاش چې زۀ هم د خپل رَبّ پۀ نوم باندې خپل هر څۀ قربان کړم---!!

یہ اِک جان کیا ہے، اگر ہوں کروڑوں
ترے نام پر سب کو وارا کروں میں (1)

---

1 ...سامانِ بخشش، صفحه:152۔

# مونږ هم ځوي قُربانوو

شيخ احمد بن يحيیٰ دمشقي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ يو نيک بزرګ تير شوے دے، د دمشق اوسيدونکے وو، يوه ورځ پهٔ خپل کور کښې د خپل مور پلار سره ناست وو او خپل مور او پلار ته يې قرآنِ کريم بيانولو، پهٔ تِلاوت کښې د حضرت اِسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام واقعه راغله، هغوئي د قرآنِ کريم نه دا واقعه بيان کړه چې ځنګه حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام خپل ځوي قُربانۍ ته تيار شو؟ ځنګه حضرت اِسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام پهٔ خوشحاله زړهٔ خپل ځان د ذبح کولو د پاره پيش کړو؟ دا واقعه چې يې واوريدله نو د مور جانې پهٔ زړهٔ کښې يې جوش راغلو، وه يې فرمائيل: احمده ځويه! زما هم يو ځوي دے، زهٔ تا د رَبّ پهٔ نوم باندې وقف کووم- ځه! د الله پاک عبادت کوه!

شيخ احمد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: زهٔ د کور نه لاړم، مکے مکرمې ته ورسيدم، د کعبې شريفې پهٔ خوا کښې مې عبادت کولو، پهٔ نيکو کښې مصروفه ووم، ډيره موده پس راته مور او پلار راياد شول، زهٔ کور ته راغلم، دروازه مې وډبوله، د دننه نه د مور جانې اواز راغلو: څوک يې؟ ما ووئيل: ستاسو ځوي احمد يم- مور جانې دروازه هم برسيره نهٔ کړه، د دننه نه يې وفرمائيل: زما هم يو ځوي وو هغه ما د الله پاک پهٔ نوم وقف کړے دے، ځويه! لاړ شه! د الله پاک عبادت اوکړه! د دِين خِدمت اوکړه! اوس به د قيامت پهٔ ورځ ملاقات کيږي- (1)

---

[1] ...سبع سنابل، سنبله سوم در ترک وقناعت وتوکل وتبتل، صفحه:106۔

| | |
|---|---|
| دو عالَم سے کرتی ہے بیگانہ دِل کو | عجب چیز ہے لذّتِ آشنائی[1] |

وضاحت: محبت هم څهٔ عجیبه خیز دے--!! د زړهٔ نه د دواړو جهانو محبت اوباسي-

خیر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! کله چې مونږ قُرباني کوو پهٔ زړهٔ کښې خوشحالي پکار ده، چې د اِیثار او قُربانۍ جذبه پهٔ زړهٔ کښې وي، هم دا جذبه خو ده کومه چې به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د الله پاک پهٔ دربار کښې قبوله شي-

| | |
|---|---|
| محبت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی! |
| مِرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی! |
| عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا! یاالٰہی![2] |

## (2): دویم حالت: اِخلاص

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قُربانۍ کولو پهٔ وخت دویم حالت کوم چې زمونږ پهٔ زړهٔ کښې پکار دے، هغه اِخلاص دے- خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ ضَحّٰى طِيْبَةً نَفْسَهٗ مُحْتَسِبًا لِاُضْحِيَتِهٖ كَانَتْ لَهٗ حِجَابًا مِّنَ النَّارِ چا چې د زړهٔ پهٔ خوشحالۍ او خالِص د الله پاک د رضا د پاره قُرباني اوکړه، د هغهٔ قُرباني به د هغهٔ د پاره د دوزخ نه

---

[1]... کلیاتِ اقبال، بالِ جبریل، صفحه:432-

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:105 ملتقطًا-

حجاب [يعنې رکاوټ] جوړ شي- (1)

سُبْحٰنَ الله! دلته وګورئ چې د کوم حالت طرف ته زمونږ پام راګرځولے کيږي، مُحتَسِباً يعنې چې خالص د الله پاک رضا مقصد وي- د دې نه علاوه مونږ هيڅ هم نۀ غواړو ◈ نۀ د دُنيا مشهورتيا ◈ نۀ د خپل ځان واه واه ◈ نۀ څۀ تعريف ◈ نۀ ځان خوښي، هيڅ نۀ، بس هم يو مقصد وي چې زۀ قُرباني کووم، کاش چې د دې پۀ برکت زما د رَبّ رضا نصيب شي-

## د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يو مبارک حالت

د الله پاک نبي حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د کوم پۀ ياد کښې چې مونږ قُربانئ کوو، **پۀ روايتونو کښې دي:** کله چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ځوي د قُربانئ د پاره سملولو، بيا د هغوئي د سر خوا ته کيناستو، چاړه يې د هغوئي پۀ مرئ باندې کيښودله، بيا يې ووئيل:

اِلٰهِى! لَكَ الْحَمْدُ فِى الدَّهْرِ الْبَاقِى، رَزَقْتَنِى الْوَلَدَ عَلٰى كِبَرِ سِنِّى، فَابْتَلَيْتَنِى بِهٰذَا الْبَلَاءِ

اے الله پاکه! د هميشه هميشه دپاره هم ستا حمد دے، تا ما ته پۀ بوډا توب کښې ځوي راعطا کړلو، بيا دې د هغۀ پۀ ذريعه دا ازميښت وفرمائيلو، فَاِنْ كَانَ هٰذَا رِضًا لَكَ فَاُسَلِّمُ لِاَمْرِكَ بس چې ستا رضا پۀ دې کښې ده نو زۀ ستا د رضا د پاره ستا د حکم پۀ وړاندې سر ټيټووم- (2)

---

1… معجم الكبير، جلد:2، صفحه:213، حديث:2670۔

2… الرقة والبكاء لابن قدامه، الذبيح عَلَيْهِ السَّلَام، صفحه:85۔

**پهٔ کتابونو کښې ليکلي دي:** کله چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دا ووئيل نو فرښتے هم پهٔ ژړا شوې او هغوئي د الله پاک پهٔ دربار کښې عرض اوکړو: مولیٰ! دا ستا نبي دے، پهٔ هغوئي کښې يو (ستا د رضا د پاره) پرمخې ملاست دے، بل (ستا د رضا د پاره) ذبح کولو ته تيار دے۔ بيا الله پاک د اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ فديه کښې جنتي ګډ راوليږلو۔ [(1)]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې عظيمې قُربانۍ پهٔ وخت د دې دواړو د اوچتو مرتبو د نبيانو پهٔ حقيقت کښې د زړهٔ حالت څهٔ وو، د دې خو مونږ ته پته نهٔ لګي، نهٔ هغې ته رسيدے شو، البته! دا روايتونه د هُغه حالتونو يوه نظاره راښائي۔ حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله قُرباني کوله او حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام چې کله د قُربانۍ د پاره تيار وو، د هغوئي دواړو پهٔ نظر کښې دُنيا نهٔ وه، خپله واه واه نهٔ وه، خپل مقام، خپله مرتبه، خپل تعريف هيڅ مقصد نهٔ وو، د هغوئي زړونه چې لړزيدل نو صرف د يو څيز د پاره، هغه دا چې الله پاک زمونږ نه راضي شي۔ معلومه شوه چې **د قُربانۍ چې کومه اصلي فلسفه (*Basic philosophy*) ده، هغه صرف د الله پاک رضا ده۔** څکه چې کله هم مونږ قُرباني کوو نو ◈ پهٔ زړهٔ کښې د اِخلاص جذبه پکار ده ◈ چې لِلّٰهيت وي ◈ زمونږ مقصد خپل تعريفونه نهٔ وي ◈ نهٔ واه واه وي ◈ نهٔ بل ته ښودنه وي ◈ هلته چې د ښاروي پهٔ مرۍ باندې چاړه راښکلے کيږي او دلته مونږ د الله پاک د رضا د پاره لړزيږو ◈ هُم پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې دعاګاني کوو چې **اے الله پاکه! زما پهٔ وَس کښې چې څهٔ وو، ما اوکړل، اے الله پاکه!**

---

[1]... الرقة والبكاء لابن قدامه، الذبيح عَلَيْهِ السَّلَام، صفحه:85۔

د خپل خليل په وسيله زما نه راضي شې-

| | |
|---|---|
| مولیٰ مجھ کو نیک بنا دے | اپنی اُلفت دِل میں بَسا دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مژدہ | یااللہ! میری جَھولی بَھر دے (1) |

## اِخلاص د عمل روح دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اِخلاص د عمل روح دے- د قبوليت کُنجي دهٔ، **علمائے کرام فرمائي:** د اِخلاص نه بغير عمل د بے ساه وجود په شان دے، دا ګويا هُغه ونه دهٔ، کومه چې ميوه نهٔ نيسي- څنګه څنګه چې بے ساه وجود د ښخولو لائق وي، هم داسې د اِخلاص نه بغير عمل هم د هيڅ کار نهٔ دے، لکه څنګه چې بغير د ميوې نه ونه د وور بلولو دپاره پکار راځي، هم داسې رِيا (يعني بل ته د ښودنې) والا عبادت هم دوزخ ته د غورځيدو سبب دے-(2)

## هوسۍ ته مشک د کوم ځائے نه ميلاؤ شو

تاسو ته معلومه دهٔ چې هوسۍ يو مشهور ځناور دے، د دُنيا بهترينه خوشبوئي، کومې ته چې کستوري [يعني مشک] وئيلے کيږي، د هوسۍ په ذريعه حاصليږي- په هوسۍ کښې دا خوشبوئي د کوم ځائے نه راغله؟ علامه دَمِيري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په **حياةُ الـحيوان** کښې په دې باره کښې يو روايت ليکلے دے، فرمائي: کله چې د الله پاک نبي حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام دُنيا

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه: 123121 ملتقطًا-

[2]...علم القلوب، باب صفة الاخلاص وطبقات المخلصين بالقلب، صفحه: 137-

ته تشريف راوړلو، چونکه د الله پاک نبي هم وو او خليفةُ الله هم راغلے وو، نو پۀ زمکه کښې چې کوم ځناور وو، هغوي د هغوئي پۀ خدمت کښې د سلام د پاره حاضر شول، بيا منظر څۀ داسې وو چې ټول ځناور پۀ نمبر نمبر حاضريدل، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام به د هر يو د حال مطابق د هغۀ د پاره دعاګانې کولې، پۀ دغه وخت کښې هوسۍ هم حاضره شوه، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د هغې پۀ شا باندې خپل لاس راښکلو او دُعا يـې اوکړه، د هغې پۀ برکت د هغې نه خوشبوئي شروع شوه، بيا چې کله دا هوسۍ واپس لاړه، نورو ځناورو د دې نه پوښتنه اوکړه: پۀ تا کښې دا خوشبوئي د چرته نه راغله؟ هوسۍ ووئيل: دا خوشبوئي د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د لاس مبارک او د دُعا برکت دے- نو هغه ځناور هم د خوشبوئي پۀ لالچ کښې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ خِدمت کښې حاضر شول، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي د پاره هم دُعا اوکړه او د هغوئي پۀ شا باندې يـې لاس هم راښکلو خو د هغوئي نه خوشبوئي شروع نۀ شوه، واپس لاړل، د هوسو سره يـې خبره اوکړه، وه يـې وئيل: حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام زمونږ پۀ شا باندې لاس هم راښکلو، زمونږ د پاره يـې دُعا هم اوکړه خو پۀ مونږ کښې خوشبوئي رانغله---؟ هوسو ووئيل: مونږ صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د تعظيم د پاره حاضر شوي وو خو ستاسو نيت د هغوئي تعظيم نۀ بلکې خوشبوئي حاصلول وو، ځکه ستاسو هغه برکتونه نصيب نۀ شول، کوم چې زمونږ نصيب شول- (1)

الله! الله! څومره ښکلے شان دے---!!

---

[1]... حياة الحيوان، باب الظاء المعجمة، الظبی، جلد:2، صفحه:147۔

جس کا عَمَل ہو بے غرض، اس کی جزا کچھ اور ہے

حضرت شیخ سلطان باھُو رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ لیکلي دي:

جے رَبّ نَہاتِیاں، دَھوتِیاں مِلْدَا، مِلْدَا ڈَڈُوَاں، مَچھیاں ھُو

جے رَبّ مِلْدَا مَوُن مُنَایَاں، مِلْدَا بَھیڈَاں، سَسْیاں ھُو

رَبّ اُنْہاں نُوں مِلْدا بَآہُو، نِیّتَاں جِنْہاں دِیاں سَچِّیَاں ھُو

وضاحت: که د رَبّ قرب پۀ لامبلو وینځلو میلاؤیدے نو چیندخانو او مهیانو ته به میلاؤ شوے وے (چې هغوئي هر وخت پۀ اوبو کښې اوسیږي)، که د رَبّ قُرب پۀ ویښتو جوړولو، ښکلي کولو میلاؤیدے نو ګډو بیزو ته به میلاؤیدے چې (د ورِی حاصلولو د پاره اکثر د هغوئي ویښته کټ کولے، جوړولے شي)، اے باھُوؔ! د رَبّ قُرب خو د هغوئي نصیب کیږي، د چا نیت چې رښتونے وي۔

## د عمل د قبلیدو 3 معیارونه

علمائے کرام فرمائي: نیک عمل د 3 خیزونو نه جوړیږي: (1): چې اِنسان پۀ دې پوهه شي چې هغه ته د عمل توفیق هم الله پاک ورکړے دے، پۀ دې سره ځان خوښي ختمیږي (2): چې اِنسان د خپل عمل پۀ ذریعه صرف او صرف د الله پاک رضا غواړي، پۀ دې سره اِنسان د رِیا، بل ته د ښودلو او د خپلې واه واه د افت نه بچ کیږي (3): چې اِنسان د خپل عمل ثواب د مرګ نه پس موندل غواړي، د دې پۀ برکت د مخلوق د طرف نه څه لالچ نۀ

پاتي کیږي- [1]

غرض: **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** کله چې مونږ قُرباني کوو نو چې زمونږ په زړۀ کښې اِخلاص وي، د الله پاک په رضا باندې نظر وي، چې د دې حالت سره قُرباني کوو نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! په دُنیا کښي به هم د دې برکت نصیب کیږي او په اخرت کښې به هم کامیابي نصیب کیږي-

## په زړۀ کښې د درد ساتلو سره ذبح کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** یو بَل ښکلے حالت کوم چې د قُربانۍ په وخت زمونږ په زړۀ کښې پکار دے، هغه رحمدلي دي- **اِمام شَعراني** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي:** ادب دا دے چې کله مونږ څاروے ذبح کوو، هُغه وخت زمونږ په زړۀ کښې درد موجود وي- [2]

یعني د الله پاک په حکم باندې په عمل کولو مونږ څاروے ذبح خو کړو خو د هغې حالت دا وي چې کله مونږ د څاروي په مرۍ باندې چاړه راښکو، هُغه وخت هم زمونږ په زړۀ کښې رحم وي، هُغه وخت هم زمونږ په زړۀ کښې نرمي وي، داسې وواییٔ چې اِنسان چې کله د الله پاک د حکم پوره کولو د پاره د څاروي په مرۍ چاړه راښکي نو هُغه وخت د رحمدلۍ په وجه د هغه د زړۀ دردزا زیاته شي، په سترګو کښې یې اوښکې راشي، داسې په زړۀ کښې د ژړغوني کیدو دې څاروے ذبح کړے شي- یو ځل یو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

---

[1]... علم القلوب، باب صفة الاخلاص، صفحه:151 ملتقطًا-

[2]... لواقح الانوار القدسیه، العهد السابع و السبعون بعد المائة، جلد:1، صفحه:573 خلاصةً-

دربارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زۀ چیلۍ ذبح کووم او ما له پۀ هغې باندې رحم راځي، رحمتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: که چرې تۀ پۀ چیلۍ باندې رحم کوې نو الله پاک به پۀ تا باندې رحم اوکړي-[1]

آه! افسوس چې دلته معامله اُلټا ده، خلق د قُربانۍ پۀ وخت تماشه کوي، ځینې نادانه خو د ځاروي پۀ تکلیف کښې پۀ لیدو پړقې هم وهي بلکې نن سبا خو د انټرنیټ او د سوشل میډیا (*Social Media*) دور دے، خلق د ځاروي، د هغۀ د پړقیدو ویډیوګانې (*Videos*) جوړوي او پۀ سوشل میډیا یې وائرل کوي، الله پاک دې زمونږه هدایت نصیب کړي! دا وخت د تماشې کتو نۀ دے بلکې د رحمدلۍ پۀ وجه د اوښکو توئیولو وخت دے، د هغه ځاروي خوش قِسمتي ده چې هغه د الله پاک پۀ نوم باندې قُرباني کیږي، د هغۀ پۀ خوش قِسمتۍ باندې د رشک کولو وخت دے-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا مقدس او مبارک حالتونه دي، کوم چې د قُربانۍ کولو پۀ وخت زمونږ پۀ زړونو کښې پکار دي (1): د الله پاک پۀ حُکم باندې عمل کوو، د دې خبرې خوشحالي وي (2): پۀ زړۀ کښې د اِخلاص جذبه موجوده وي (3): د ځاروي پۀ حق کښې د رحمدلۍ جذبه پۀ مونږ کښې موجوده وي، د دې جذبو او حالتونو پۀ زړۀ کښې د ساتلو سره چې قُرباني کوو نو اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! قُرباني به د الله پاک پۀ نزد قبوله

[1]... مستدرک، کتابُ معرفة الصحابة، ذکر قرة بن ایاس رَضِیَ اللّٰہُ عنه، جلد:4، صفحه:765، حدیث:6541-

هم شي او د دې پۀ برکت به اِیمان هم مضبوطیږي۔

| | |
|---|---|
| عطا کر دے اخلاص کی مجھ کو نعمت | نہ نزدیک آئے ریا یاالٰہی![1] |

## د قُربانۍ او د تقویٰ تقاضې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ آیت مبارک واوریدو: الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَنۡ یَّنَالَ اللّٰہَ لُحُوۡمُہَا وَ لَا دِمَآؤُہَا وَ لٰکِنۡ یَّنَالُہُ التَّقۡوٰی مِنۡکُمۡ ؕ (پاره:17، سورۀ حج:37) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: د الله بارګاه ته بالکل نۀ د دوئي غوښې رسي او نۀ د دوئي وینې، البته ستاسو له طرفه پرهیزګاري د هغۀ بارګاه ته رسي۔ |

دا آیت مونږ له سبق راکوي چې خپله قُرباني د قبلیدو لائقه جوړولو د پاره د تقویٰ پۀ تقاضو باندې عمل کول ضروري دي، مثلاً ◈ د قصاب سره پۀ خبره کولو کښې دې **د مزدورۍ شرعي اُصولو** ته پام اوکړے شي ◈ د قصاب مزدوري دې پوره پوره پۀ وخت ورکړے شي ◈ د قُربانۍ څاروے پۀ کوڅه کښې پۀ داسې ځائے کښې تړل د کوم سره چې خلقو ته پۀ تیریدو کښې تکلیف وي، د داسې کولو نه دې ځان بچ کړے شي ◈ د قُربانۍ پۀ وخت بعضې وخت لاره بندولے شي، د دې سره هم د اِنسانانو حقونه ماتیدے شي ◈ پۀ اولسي لاره کښې قُرباني کولے شي، پۀ داسې حالت کښې دې د اِنسانانو د حقونو خیال وساتلے شي ◈ پۀ کوڅو کښې وینه هم داسې توئي شوې پریښودلے شي، پۀ

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:106 ملتقطًا۔

کومو چې د تیریدونکو د جامو د ګنده کیدو اندیښنه وي، د دې نه دې هم ځان وساتلے شي ◈ لرے او د ښاروي کولـمې، د خِیټې نه وتلے ګند وغیره دې هم داسې پۀ کوڅه کښې نه اچولے کیږي ◈ غرض دا چې پۀ قُربانۍ کولو کښې دې د طهارت او پاکۍ، او صفایۍ سوتراییۍ پوره خیال وساتلے شي ◈ د اِجتماعي قُربانۍ پۀ شکل کښې دې د غوښې تقسیم د شرعي اُصولو بالکل مطابق اوکړے شي، د چا حق دې هم نۀ خوړلے کیږي ◈ د قُربانۍ د څرمنې که مو چرې د چا سره وعده کړې وي نو هغۀ له بیا بیا د راتللو تکلیف مۀ ورکوئ ◈ بعضې نادانه د قُربانۍ پۀ نوم مَعَاذَالله! جُمعه پریږدي بلکې ځینې خو نـمونځونه هم قضا کوي، د هغوئي بهانې وي چې ◈ قصاب ناوخته راغلے وو ◈ پۀ قُربانۍ کولو کولو کښې جُمعه قضا شوه ◈ جامې مې پۀ وینو باندې ګنده وې، څکه رانا نـمونځ هم قضا شو وغیره، غرض دا چې هر هُغه کار کوم چې ګناه ده یا د کوم پۀ وجه چې پۀ ګناهونو کښې د اخته کیدو اندیښنه ده، د هُغه کار نه بچ کیدل د تقویٰ تقاضا ده او پۀ قُربانۍ کښې د تقویٰ پۀ تقاضو باندې عمل کول قُرباني د الله پاک پۀ دربار کښې د قبلیدو لائق جوړوي۔

| | |
|---|---|
| دے حُسنِ اَخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت |
| مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یاالله! مری جھولی بھر دے[1] |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د تقویٰ پۀ تقاضو کښې دا هم دي چې پۀ قُربانۍ کولو کښې ◈ د اِخلاص جذبه هم وي ◈ د قُربانۍ جذبه هم وي ◈ د الله پاک د رضا د پاره

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:123۔

د خپل ځان، دولت د قربانولو اِراده هم وي ◈ کله چې د ښاروي پۀ مرئ باندې چاړه کيښودے شي نو چې پۀ اِنسان کښې د الله پاک محبت موجود وي ◈ پۀ زړۀ زړۀ کښې د الله پاک پۀ دربار کښې عرض کوي چې مولیٰ! د ښاروي د قُربانئ حکم وشو، زۀ ستا د رضا د پاره ښاروے قُرباني کووم ◈ اِلٰهی! د نفس د خواهشاتو د قربانولو او ستا د رضا والا کارونه هم ستا خوښ دي، مولیٰ! نن ستا د رضا د پاره نفسِ اَمَّاره [يعني پۀ ګناهونو باندې راپارونکے نفس] هم وژنم، د نن نه پس به چرې هم د نفس او د شيطان پۀ دوکه کښې نۀ راځم او ستا نافرماني به نۀ کووم ◈ اے زما پاکه پروردګاره! نن ستا پۀ حکم باندې ښاروے قُرباني کووم، ستا د رضا د پاره، ستا د دِين د پاره به د وخت قُرباني هم ورکووم ◈ مولیٰ! کله چې مؤذِّن حَیَّ عَلَی الْفَلَاح ووائي نو د خوب، د خپل دُکان، د کاروبار، د دُنيا د کار روزګار قُرباني به ورکووم او فوراً به جومات ته حاضرېږم ◈ بلکې اے زما خوږه الله پاکه! د نفس خواهشات، وخت او مال وغيره خو څۀ کړې، ستا د رضا د پاره که زما نه د ځان قُرباني هم وغوښتے شي نو هيڅکله به هم نۀ پښا کېږم بلکې

| | |
|---|---|
| یہ اِک جان کیا ہے، اگر ہوں کروڑوں | تیرے نام پر سب کو وارا کروں میں[1] |

الله پاک دې مونږ ته د داسې کمالي قُربانئ کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ... سامانِ بخشش، صفحه:152۔

## د قُربانۍِ څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پۀ دې وخت کښې د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د فيضانِ انبياء او فيضانِ اولياء پۀ عام کولو کښې مصروف دے ◈ دعوتِ اِسلامي اوسه پورې پۀ زرګونو جوماتونه، پۀ سوؤنو فيضانِ مدينه (مدني مرکزونه) جوړ کړي دي ◈ ماشومانو هلکانو او جينکو **(Boys & Girls)** ته د قرآنِ پاک د تعليم ورکولو د پاره پۀ ټوله دُنيا کښې پۀ زرګونو مدرسة الـمدينه جوړ کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې پۀ زرګونو ماشومانو هلکانو او جينکو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي ◈ د عالم او عالمې کورس کولو د پاره تقريباً پۀ سوؤنو جامعة الـمدينه ( **Boys & Girls**) جوړ کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې تقريباً پۀ زرګونو طالبِ علمان درسِ نظامي (عالم او عالِمه کورس) مفت کوي ◈ د شرعي لار ښودنې د پاره پۀ پاکستان او د بهر ملکونو پۀ مختلفو ځايونو کښې دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي، مفتيان کرام د اُمت پۀ شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي ◈ پۀ الـمدينةُ العلميه **(Islamic Research Center)** کښې پۀ مختلفو موضوعاتو پۀ سوؤنو دِيني کتابونو چاپ کړے شوي دي او دا لړۍ لا اوس هم روانه ده-

تاسو هم د دِين د خدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! نن به عاشقانِ رسول د قُربانۍِ سعادت حاصلوي- ټولو ته خواست دے چې د خپل خپل څاروي څرمن دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! ستاسو د ورکړے شوي رقم يا د څرمنې پۀ ذريعه به پۀ ټوله دُنيا کښې دِيني، اِصلاحي، رُوحاني او د خير ښېګړې کارونه کولے شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

ستاسو د پاره به صدقهٔ جاريه وي- د دې سره سره پهٔ خپله کوڅه او محله، خپل خپلوانو ته فون وغيره اوکړئ او هغوئي له هم د دې ترغيبورکړئ! پهٔ خپل کوشش سره هم ځرمنې راجمع کړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دې به مو هم برکتونه نصيب کيږي، **پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** چا چې د څهٔ خير پهٔ کار کښې لار ښودنه اوکړه، هغهٔ ته به پهٔ هغې باندې د عمل کوونکي همره ثواب ميلاؤيږي- [1]

عطّارؔ سے محبوب کی سُنّت کی لے خدمت
ڈنکا یہ ترے دین کا دُنیا میں بجا دے [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال...الخ، صفحه:628، حدیث:2671۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:112۔